د جمعې ورځې د خطابت موضوع او

لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو

ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

۳۰/ جماد الاولی/۱۴۴۷ هـ، ق موافق ۳۰ / عقرب /۱۴۰۴هـ، ش

# د الله تعالٰی په خِلقت کې بدلون راوستل، چې د هغې جملې څخه د ږیرې خریيل هم دي، د فطرت خلاف عمل او لویه گناه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله الذي جعل الرجال باللحی، أحمده تعالی وأشکره وأتوب إلیه واستغفره، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شریك له فالق الحب والنوی، وأشهد أن سیدنا ونبینا محمدًا عبده ورسوله القائل: «أعفوا اللحی وأحفوا الشوارب ولا تشبهوا بالمجوس والیهود والنصاری»، اما بعد:

قال الله سبحانه وتعالی:(قَالَ يَا ابْنَ أُمَّ لا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلا بِرَأْسِي إِنِّي خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِي ).طه: (٩٤)

**درنو حاضرینو او محترمو اوریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

د الله جل جلاله ډیر لوی احسان دی ، چې انسان یې په ښایسته شکل او صورت سره پیداکړی دی، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:(لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ)التین: (٤)

ترجمه:چې خامخا په تحقیق پیدا کړی دی مونږ انسان بني آدم په ډیر ښه اعتدال سره.

په یو بل مبارک آیت کې راځي:(وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ). التغابن:(۳)

ترجمه: او صورتونه یې ترلي دي ستاسې بیا یې ښایسته کړي دي صورتونه ستاسې او هغه (الله) ته بېرته ور تلل دي ستاسې.

الله جل جلاله انسان د نورو حیواناتو څخه مختلف پیداکړی دی ،ښایسته صورت، قد او قامت لري، متناسب اعضاء لري چې نه یې پزه اوږده ده، نه یې غوږونه ډیر لوی دي، نه یې سترگې وړې یا غټې ورکړي دي، نه یې لاسونه د شادي د لاسونو په څیر ورکړي دي، نه یې خوله ورلره اوږده پیدا کړې ده او نه یې سپیږمه بدرنگه پیدا کړې ده او نه یې غاښونه لوی لوی او گډوډ ورکړي دي ، نه یې ژبه لکه د نورو حیوانانو او ژوندیو ژوو په شان ورکړې ده . الحمدلله وبنعمته تتم الصالحات.

همدا وجه ده چې الله تعالی مونږ ته فرمايي:(فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفاً فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ).الروم: (٣٠)

ترجمه:پس برابر کړه (ای محمده!) مخ خپل دین ته په داسې حال چې پر حق دین کلک ولاړ يې لازم ونيسئ دين د الله هغه چې پيدا کړي دي (الله) خلق په هغه دين مه بدلوئ تاسو هغه دين چې الله خلق پر هغه پيدا کړي دي (چې شريک له الله سره پيدا کړئ) دا هم هغه دين سم دی چې هيڅ کوږوالی په هغه کې نشته وليکن زياتره خلق نه پوهيږي (په توحيد د الله).

د دې آيت په معنا کې مفسرين وايې، چې (أي لا تبدلوا فطرة الله ودعوا الناس على فطرتهم). ابن كثير (١/ ٦٨٦)

ژباړه: يعنې مه بدلوئ فطرت او خِلقت دالله او پريږدئ خلک په خپل فطرت باندې.

مفسرينو د پورته ذکر شوي آيت د الله تعالی فطرت په اسلام او د جسم او بدن په استقامت او جوړوالي باندې کړی دی او دا حديث يې د ذکر شوي مبارک د توضيح لپاره ذکر کړی دی. عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلاَّ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ وَيُنَصِّرَانِهِ وَيُمَجِّسَانِهِ كَمَا تُنْتَجُ الْبَهِيمَةُ بَهِيمَةً جَمْعَاءَ هَلْ تُحِسُّونَ فِيهَا مِنْ جَدْعَاءَ ». متفق عليه

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه به ويل چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هيڅ ماشوم نشته ؛ مگر داچې هغه پيدا کيږي په فطرت باندې (اسلام يا روغ رمټ او له معنوي عيبونو پاک) ؛ نو د هغه مور او پلار هغه لره يهودي کړي او يا يې نصراني کړي او يا يې مجوسي کړي، (داسې روغ او سالم پيدا کيږي) لکه څرنگه چې وزيږوې څاروی بچی روغ او سالم الاعضاء . آيا تاسو په کې وينی داسې بچی چې غوږ يې څيرل کړل شوي وي؟

امام قاضي عياض رحمه الله ددې حديث په معنا کې وايې: د حديث مطلب دادی چې پيدا کيږي انسان جوړ خِلقت والا، چې د نقص او تغيير څخه سالم وي او غوږ يې څيرل شوی نه وي ، مگر دا تغيرات دوی په ځانونو کې وروسته را پيداکوي. إكمال المعلم شرح صحيح مسلم (٨/ ٧٣)

متأسفانه ځيني ناشکره او حيوان صفته خلک شته چې د الله تعالی په متناسب الحال د بدن په غړو او اندامونو کې تبديل راولي او د الله تعالی خِلقت کې تغيير راولي او خپل مخونه مسـخه کړي او د شـيطان هغه خبره رښـتيا کوي چې هغه ويلي ؤ(وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ وَمَنْ يَتَّخِذِ الشَّيْطَانَ وَلِيًّا مِنْ دُونِ اللَّهِ).النساء:(١١٩)

ترجمه:او لازماً زه به امر وکړم خامخا دوی ته چې پس لازماً څيروي به دوی خامخا غوږونه د چارپايانو او زه لازماً امر وکړم دوی ته پس لازماً تغيير به ورکړي دوی خامخا پيدايښت د الله ته.

امام بيضاوي وايې( عن وجهه وصورته أو صفته) تفسير البيضاوي ـــ (٢/ ٢٥٥) دوی به بدلوي د الله تعالی خِلقت د خپل اصلي حالت څخه او د خپل صورت او صفت څخه.

دا په دې معنا چې الله تعالی تاته ږیره درکړې ده او ته هغه خریوې، نو تا د الله تعالی خِلقت چې ږیره ده ، دهغې صورت او صفت دې له منځه يوړ او تبدیل دې کړ.

اکثره خلک ږيرې خريوي، چې د ږيرې په خريلو سره له يوې خوا د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره مخالفت دی او د هغه سره دجنګ اعلان دی او بل پلوه د ځان ښځه مُخنّث جوړوي.

د بشريت په لومړيو پيړيو کې ږيره د سړيتوب، شجاعت، شهامت او ددښمن د ويرولو يوه ستره علامه شميرل کيدله.

لومړنيو ايرانيوانو، يونانيانو، رومانيانو، فرعونيان او هندوانو ږيرې نه خريیلې او بې ږيرې انسان به ورته ټيټ ښکار کيدلو، حتی چې چا به ږيره نه درلوده ، د دښمن د مقابلې پر وخت به يې جعلي ږيره کيښودله.

خو د لومړي ځل لپاره سکندر اکبر خپلو عساکرو ته امر وکړ چې ږيرې وخريوئ، ترڅو دښمنان مو له ږيرو ونه نيسي.

ږيره خريل ځان مُثله کول دي چې حرام کار دی، لکه چې دښځې خپل سر خريل مُثله او منهي کار دی او د سړو سره ځان مشابه کول دی او د زينت له منځه وړل دي دارنګه کله چې سړي خپله ږيره وخريي دا هم مثله ده چې منع ورڅخه راغلې ده او د ښځو سره ځان مشابه کول دي او خپل زينت له منځه وړل دي. فقهاء کرام وايي: ږيره په خپل وخت کې د سړو لپاره زينت دی او دږيرې په خريلو کې په کامله توګه سره خپل زينت له منځه وړل دي . دښځو زينت د ويښتو په کوڅيو کې دی او د سړو زينت په ږيره کې دی، بل داچې د ږيرې په خريیلو سره ځان د نصاراو سره مشابه کول دي چې دا مکروه تحريمي کار دی.روح البيان (١/ ٢٢٢)

رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغو سړو لعنت ويلی دی ،چې د ښځو سره ځان مشابه کوي. عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ:« لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنْ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنْ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ» صحيح البخاري ت (٦/١٥)

ژباړه: د عبد الله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې لعنت ويلې دی رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغو سړو باندې چې ځانونه مشابه کوي د ښځو سره او رسول الله صلی الله عليه وسلم لعنت ويلې په هغو ښځو چې ځانونه مشابه کوي له سړيو سره.

علامه بدرالدين عيني رحمه الله ليکلي دي: په لباس کې تشبّه د سړو له ښځو په هغو شيانو کې موجب د لعنت ده چې هغه شيان د ښځو له عادتونو او کارونو څخه وی لکه غاړکی اچول، اميل اچول، بنګړي اچول ، په پښو کې پای زيب اچول او په غوږونو کې غوږوالی اچول

او هغه شيان چې ښځې يې کاروي او سړو پورې اړه نلري او د ښځو ځان مشابه کول له سړو سره، لکه دسړيو په شان څپلې اچول، د سړو په شان څادرونه اچول، او د سړو په شان چپنې اچول او لونګی په سر کول او نور هغه شيان چې استعمال يې په سړو پورې خاص وي.همدا راز په حرکتونو کې د ښځو سره ځان مشابه کول دادي لکه په جسم کې تخنُّث پيدا کول(نرمښت) او په خبرو او حرکت کې د ښځو حرکت اختيارول. عمدة القاري شرح صحيح البخاري (٣٢/ ٥٣)

چې ږیره خریل هم د ښځو سره ځان مشابه کول دي او ددې وعید لاندې راځي؛ ځکه چې په کومه گناه کې لعنت وارد وي هغه کبیره گناه ده.

د همدې وجی نه ځینې علماء کرام وایې چې څوک د ښځو په شان خبرې کوي او د ښځو په شان حرکت کوي په دُره باید ووهل شي، مگر دا چې پیدایشي عادت یې وي بیا خیر دی.

د ږیرې خرییل د مجوسیانو او مشرکانو کار دی او نبي علیه السلام د ږیرې په پریښودلو امر کړی دی او فرمایلي یې دي: عَنْ ابْنِ عُمَرَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ وَفِّرُوا اللِّحَى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ ). صحيح البخاري ت (١٥/ ١٦)

ژباړه: مخالفت وکړئ د مشرکانو سره ، پریږدئ ږیرې او بریتونه زیات لنډ کړئ.

دامام مسلم په روایت کې راځي: « جُزُّوا الشَّوَارِبَ وَأَرْخُوا اللِّحَى خَالِفُوا الْمَجُوسَ ». صحيح مسلم (١/ ١٥٣)

ژباړه: لنډ کړئ بریتونه او پریږدئ ږیرې ، مخالفت وکړئ د مجوسو.

علامه أبو سعید الخادمی رحمه الله د ذکر شوي حدیث په شرح کې وایې:(أَرَادَ بِهِ النَّهْيَ عَمَّا يَفْعَلُهُ الْأَعَاجِمُ وَالْإِفْرَنْجُ مِنْ قَصِّ اللِّحْيَةِ وَتَوْفِيرِ الشَّارِبِ، فَإِنَّهُ مَكْرُوهٌ). بريقة محمودية في شرح طريقة محمدية (٤/ ١٧٤)

ژباړه: نبي علیه السلام په دې سره نهې وکړه د هغه څه نه چې عجمو او فرنگیانو(انگلیسانو) کول، د ږیرو کمول او د بریتو پریښودل، ځکه دا مکروه تحریمي دي.

د کسرئ د پاچاهانو دا عادت ؤ چې هغوی به ږیرې لنډولې او بریتونه به یې غټ غټ پریښودل، نبي علیه السلام خپل امت ته دکفارو سره په مخالفت باندې امر وکړ.التيسير بشرح الجامع الصغير ـ للمناوى (١/ ٩٨٧)، العناية شرح الهداية (٣/ ٣٢)

امام قاضي عیاض رحمه الله وایې:(يُكْرَه حَلْق اللِّحْيَة وَقَصّهَا وَتَحْرِيفهَا ، وَأَمَّا الْأَخْذ مِنْ طُولهَا وَعَرْضهَا إِذَا عَظُمَتْ فَحَسَن ، بَلْ تُكْرَه الشُّهْرَة فِي تَعْظِيمهَا). فتح الباري لابن حجر (١٦/ ٤٨٣)

ژباړه: مکروه دي (تحریمي) د ږیرې خریل او لنډول یې او تبدلول یې ، البته د ږیرې له اوږدو او عرض څخه اخیستل کله چې غټه شي ، نو دا ښه کار دی ، همداراز مکروه دي شهرت حاصلول په غټولو د ږیرې سره .

البته د ږیرې په حال پریښودلو او غټولو کې د نورو محدثینو نظر د قاضي عیاض په شان نه دی.

علامة الشامي ابن عابدين رحمه الله لیکلي:(وأما الأخذ منها وهي دون ذلك كما يفعله بعض المغاربة ، ومخنثة الرجال فلم يبحه أحد ، وأخذ كلها فعل يهود الهند ومجوس الأعاجم). رد المحتار (٧/ ٤٧٣)

ژباړه: او هر چې د ږیرې اخیستل دي د قبضې څخه کمه اندازه لکه ځینې اهل مغرب خلک چې له قبضې کمه اندازه ږیره اخلي او ځینې مُخنّث مزاجه سړي یې کوي ، نو دا کار هیڅا مباح نه دی گڼلی او ټوله ږیره خرییل د هند د یهودو عمل دی او د عجمې مجوسیانو عمل دی.

په التمهيد كتاب کې راځی: (ويحرم حلق اللحية، ولا يفعله إلا المخنثون من الرجال). الأنوار الساطعات لآيات جامعات (١/ ٤٠٣)

ژباړه: او حرام دي د ږيرې خرييل او دا كار نه كوي ، مگر هغه مخنَّث سړي يې كوي.

علامه حطاب رحمه الله په مواهب الجليل کې ليكي:(وحلق اللحية لا يجوز وكذلك الشارب، وهو مثلة وبدعة، ويؤدب من حلق لحيته أو شاربه).مواهب الجليل شرح مختصر خليل( ١/٣١٣ )

ژباړه: او د ږيرې خرييل جواز نلري او همدارنگه د بريتونو خريبأ جواز نلري او دا مثله ده او بدعت دی او تأديب به ورکولی شي هغه چاته چې خپله ږيره خريوي او يا خپل بريت خريوي.

امام أبو شامة چې د شوافعو لوی عالم دی هغه وايې: (وقد حدث قوم يحلقون لحاهم وهو أشد مما نقل عن المجوس من أنهم كانوا يقصونها.) الأنوار الساطعات لآيات جامعات (١/ ٤٠٣)

ژباړه: چې داسې قوم(مسلمانان) را پيدا شوی دی چې دوی خپلې ږيرې خريوي، او دا ډير بدتر دي د هغه څه نه چې د مجوسيانو څخه را نقل دي ، ځكه مجوسيانو به ږيرې كمولی.(او دوی يې له بيخه خريوي).

ځينې ځوانان په ږيرو مسخرې كوي او د يهودو په شان يې جوړوي ، چې دا كار په شريعت کې ناروا كار دی.

څوک چې دا خوښ گڼي چې خپله ږيره او د سر ويښتان د يهودو په شان جوړه کړي او په دې ورته ځان ښايسته ښكاري ، بايد په خپل ايمان وويرېږي ، ځكه د كفارو لباس خوښول او له هغې سره مينه كول د مسلمان ايمان د زوال علامه ده.

د سر يوه حصه كمول او يا خرييل او بله حصه پريښودل په شريعت کې ورته (قزع ) وايې چې ممنوع كار دی.

په حديث شريف کې راځي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ:« نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الْقَزَعِ»متفق عليه

قال الامام ابو داوود: وَالْقَزَعُ أَنْ يُحْلَقَ رَأْسُ الصَّبِىِّ فَيُتْرَكَ بَعْضُ شَعْرِهِ. سنن أبى داود-ن (٤/ ١٣٣)

ژباړه: د عبد الله بن عمررضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې نبي عليه السلام د (قَزْعِ) څخه نهې کړی ده او قزع ديته ويل کيږي چې د ماشوم سر وخرييل شي او بعضې حصه ويښته يې پريښودل شي.

د بريقې محمودې مؤلف ليكلي دي:( فَإِنَّ حَلْقَ الْبَعْضِ مَعَ تَرْكِ الْبَعْضِ مُثْلَةٌ وَهُوَ مَكْرُوهٌ مُطْلَقًا تَنْزِيهًا إلَّا لِعُذْرٍ ...وَسَوَاءٌ فِي الْقَفَا أَوْ النَّاصِيَةِ أَوْ الْوَسَطِ خِلَافًا لِبَعْضٍ لِمَا فِيهِ مِنْ التَّشْوِيهِ وَتَقْبِيحِ الصُّورَةِ وَأَنَّهُ زِيُّ أَهْلِ الدَّعَارَةِ وَالْفَسَادِ وَالْيَهُودِ) بريقة محمودية في شرح طريقة محمدية وشريعة نبوية (٦/ ١٤٧)

بعضې سر خرييل او بعضې سر پريښودل مثله ده او مثله مطلقاً مكروه ده تنزيها،مگر د عذر په وجه پروا نكوي، برابره خبره ده چې دا كار د سر په شاتنې برخه کې كوې او كه د سر په منځ کې يې كوې ؛ ځكه چې په دې كار سره شكل او صورت بدرنگه او قبيح کيږي. بل داچې دا د فاسدو او يهودو خلكو طريقه ده.

**د ږیرې په پرېښودلو کې دوه مهم ټکي دي:**

لومړی: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سُنّتو تعظیم او دنبي علیه السلام د حکم منل او وربانديې عمل کول.

دوهم: د کفارو ، مشرکینو او مجوسیانو سره د مشابهت څخه ځان ساتل. ځکه چې د مسلمان عزت ، او سرلوړي په خپل دیني مظهر کې ده او په دینو شعائرو کې ده او هر قوم او ملت ځانته یوه علامه لري او د مسلمان علامه چې ور باندې وپيژندل شي چې ، هغه د مسلمان ږیره ده.

او تر ټولو بدترینه خبره داده چې په دې مترقي نړۍ کې داسې انسان هم شته چې د جراحي عملیاتو له لارې خپل جنسیتونه بدلوي، دا نو بیا د قرآن کریم هغه اعجاز ثابتوي ، چې په اړه یې مونږ ته څوارلس سوه کاله د مخه ددې کارونو خبر راکړی ؤ ، چې داسې انسانان به پیدا کیږي چې د شیطان په لمسه به دوی (فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ) خپل جنسیتونه بدلوي . سړی به خپل ځان جراحي عملیات کوي او له ځان څخه به ښځه جوړوي او د ښځو په شان ځان ته به رحِم پیوند کوي او د بچو د راوړلو کوښښ به کوي ښځه به ځان عملیات کوي او ځان څخه به نر جوړوي او دنارینه و اعضاء به ځانته پیوند کوي.

ځینې خلک خپل پوستکي بدلوي ، تور پوستي د جراحي علمیاتو له لارې سپین پوستکي پیوند کوي او ځیني سپین پوستي ځانونو ته تور پوستکي پیوند کوي.

ځینې نور سړي او ښځې شته، چې په ځانونو په لکهاوو پیسې لګوي او ځانونو ته د ځناورو شکلونه اچوي ترڅو له ځان څخه ځنګلي ځناور جوړ کړي لکه سپي، پیشو ګان، شرمخان، ګیدړان .... بیا د نړۍ کفار په فخر سره وایې چې انسان آزاد پیدا شوی دی او باید دانسان آزادي سلب نشي او نړۍ زیات پرمختګ کړی دی.!!!

بل خوا ښځې ټوله ورځ په خپلو ځانونو مشغولې وي او خپل طبیعي حسن او ښایست بدرنګه کوي او په ځان باندې قسماقسم نخرې کوي، لکه د سر له ویښتو سره اضافي ویښته نښلول، په نوکانو رنګونه وهل، د سترګو وریزې نرۍ کول او د سترګو په بڼو نور لګول، شونډې پړسول او غټول، غاښونه تراشل او غاښونه نري کول او یا په غاښونو د پاسه نور پلاستیکي غاښونه لږول، چې دا ټول د الله تعالی د خِلقت بدلول دي او د الله تعالی په خِلقت کې لاس وهنه ده ، چې مختلف قسمه مرضونه ور څخه راپیدا کیږي او د مختلفو سرطانونو او د هلاکت سبب ګرځي.

همدا وجه ده چې د اسلام مقدس او سپیڅلي دین داسې کارونه حرام کړي دي او دا کارونه کول کبیره ګناهونه دي. الله تعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ور باندې په متعددو احادیثو کې لعنت ویلی، ځکه چې دا د الله تعالی په خِلقت باندې اعتراض او نیوکه کول دي

په یو حدیث کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ:«لَعَنَ اللَّهُ الوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ، وَالْمُتَنَمِّصَاتِ، وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ، الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ. مَا لِي لاَ أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ فِي كِتَابِ اللَّهِ». متفق علیه

ژباړه: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې لعنت کړی دی الله تعالی په خال وهونکو ښځو باندې او د خال وهلو طلب ګارو ښـځو باندې او په (هغو ښځو لعنت ويلی دی) چې د مخ او وريزو څخه ويښته وباسي او په هغو ښځو الله تعالی لعنت ويلی دی، چې د غاښونو ترمنځ جدايې راوستونکي دي د ښايست لپاره، دا هغه ښځې دي چې تغيير راوستونکي دي د الله تعالی په خِلقت کې. زه به ولې په هغه چا لعنت نه وايم چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورباندې لعنت ويلې ؟ او هغه (لعنت) د الله په کتاب کې دی.

امام نووي رحمه الله وايې: د(مفلجات) څخه هغه ښځې مراددي چې د ثنايې او رباعيې غاښونو د منځونو په تراشلو سره د غاښونو ترمنځ فاصـله پيدا کوي ترڅو ځواني او پيغلې ښـکاره شي ځکه د ړو انجونو د غاښـونو ترمنځ فاصله موجود وي ، نو زړې ښځې کارونه ددې لپاره کوي چې کم عمره ښکاره شي.او لعنت ور باندې ځکه ويل شوی دی چې دا د الله تعالی خِلقت تبديلول دي او بل داچې دا تزوير او تدليس دی او دا درواغ هم دي. شرح النووي على مسلم (١٤/ ١٠٦)

په يو بل حديث شريف کې نبي عليه السلام د خپلو ويښتو سره د نورو ويښتو پر نښلوونکو ښځو باندې لعنت ويلی دی:عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- لَعَنَ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ. صحيح مسلم (٦/ ١٦٦)

د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې بيشـکه لعنت ويلی دی رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغو ښځو چې وصلوونکي دي د نورو ويښتو د خپلو ويښتو سره او په هغو ښځو چې د ويښتو د نښلولو طلب ګاره دي او په هغو ښځو يې لعنت ويلی دی چې خالونه لګوي او په هغو ښځو د خال لګولو طلب ګاره دي.

همدارنګه نبي عليه السلام په هغو سړو لعنت ويلی دی چې ځانونه دښځو سره په خبرو، جامو او په حرکاتو کې مشابه کوي او نبي عليه السلام پر هغو ښځو لعنت ويلی دی چې ځانونه د سړو سره په خبرو کې، په جامو کې، په ناسته او ولاړه کې مشابه کوي.

ددې لعنت وجه دا هم کيدای شي چې په دې کار د الله تعالی د نعمت ناشکرې پرته ده او بل د الله تعالی په پيدايش او خِلقت باندې اعتراض کول دي. په حديث شريف کې راځي:عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُخَنَّثِينَ مِنْ الرِّجَالِ وَالْمُتَرَجِّلَاتِ مِنْ النِّسَاءِ وَقَالَ أَخْرِجُوهُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ قَالَ فَأَخْرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فُلَانًا وَأَخْرَجَ عُمَرُ فلَانَةَ». صحيح البخاري ت (١٥/ ٨)

ژباړه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې لعنت ويلی دی نبي عليه السلام پر هغو مخنَّثو د سړو له جملې څخه او پر هغو ښځو باندې يې لعنت ويلی دی چې د سړو سره ځانونه مشابه کوي او نبي عليه السلام وفرمايل: چې وباسئ دوی له خپلو کورونو څخه. عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي ، نبي عليه السلام فلانی کس له کوره وويستلو او عمر رضي الله عنه فلانۍښځه  له کوره وويستله.

نبي عليه السلام ددوی له کورونو څخه د ويستلو امر ځکه وکړ ، چې دوی پسې د کور نور اوسيدونکي پيروي ونکړي او د فساد ويره ختمه شي.

همدارنگه په اوسنۍ زمانه کې نورو فتنو هم ښځې په ناروا او له فریب ډکو کارونو کې مصروفه کړې دي او له اصلي کارونو څخه يې ويستلې دي چې هغه د الله تعالی عبادت دی او د بچو سالمه پالنه ده او د کور د کارونو اهتمام دی.

هغه جدید او نوي کارونه چې د ښځو توجه يې جلب کړې ده لکه د پوزې وړوکې کول يا د پوزې غټولو جراحي عمليات دي چې ډيری پيسې ورباندې لګيږي . همداراز د سينو لويول يا وړوکې کولو په خاطر له کور څخه وځي او د تجميلي ډاکټرانو په لټه کې وي او هميش په ځان کې د تعديلاتو او تغييراتو راوستلو په فکر کې وي ،موجوده احصائې ښايې چې اکثره سرطانونه د تجميلي جراحي عملياتو څخه رامنځ ته کيږي. حال دادی چې الله تعالی د انسان اعمالو ته ګوري نه دانسان ظاهري څيرې ته. په حديث شريف کې راځي:« إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ ». صحيح مسلم (۸/ ۱۱)

ژباړه: بيشکه الله تعالی نه ګوري ستاسې شکلونو ته او نه ستاسې مالونو ته ، بلکې الله تعالی ګوري ستاسې زړونو ته او ستاسې اعمالو ته

د کومو عملو په اړه چې په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې لعنت راشي، هغه تر ټولو فاحش ترينه لويه ګناه وي.

د ډيری احکامو د حرمت په علت انسانان نه پوهيږي ، خو په نصوصو کې د غور او فکر څخه وروسته معلوميږي چې د وريزو نرۍ کول، د مخ ويښتان ويستل (البته چې د ږيرې په څير نه وي) د غاښونو ترمنځ فاصله راوستل، په مخ ، لاسونو ، مړوندونو خالونه لګول د لاندې علتونو په وجه حرام ګرځيدلي دي:

۱-په دغو اعمالو کې دوکه او فريب دی، ځکه په دغو کارونو سره ښځې غواړي چې ځانونه ځوانې ښکاره کړي.

۲-د الله تعالی په خِلقت باندې ناراضايې او د هغه د خِلقت په حکمت باندې اعتراض کول او د الله تعالی په تقدير او تدبير باندې عدم رضايت او دا عقيده درلودل چې کوم کار چې مونږ کوو داد الله تعالی د خِلقت څخه زيات ښکلی او ښايسته دی.

۳-ښځو ته د فتنو دروازې بندول؛ ترڅو ښځې د شيطان د قدمونو پيروي ونکړي او په شهواني غرائزو کې مستغرقې نشي.

۴-په کارده چې مسلمان خپل اسلامي هويت ولري او لکه د نورو خلکو په شان په ټولنه کې ځانګړی شخصيت ولري چې له نورو منحرفو خلکو سره مشابهت ونلري.

۵- دا د يهودو، فاسقانو او فاجرانو خلکو سره ځان مشابه کول دي.

۶- په دې کارونو کې د شيطان پيروي او د هغه د خبرو منل پراته دي.

**والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**